دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
اونیزه
شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

او له اهل کتابو سره پرته له غوره اسلوب په بل ډول بحث مه کوئ مګر له هغو سره چې بې انصافي یې کړې. غوره اسلوب دا دی چې ووایئ: موږ په هغه څه ایمان راوړی چې موږ ته نازل شوي او زموږ او ستاسې معبود یو ذات دی. او موږ همغه ذات ته پوره غاړه ایښې ده.

(العنکبوت: ۴۶ آیت)

درس حدیث

له عباده بن صامت رضی الله عنه نه روایت دی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ماته د خپلو ځانونو په هکله د شپږو کارونو ضمانت راکړئ زه به درته د جنت ضمانت درکړم: ۱. کله مو چې خبرې کولې رښتیا ووایئ. ۲. کله مو چې ژمنه او وعده وکړه وفا پرې وکړئ. ۳. کله چې یو چا درسره امانت کېښود نو سلامت یې وروسپارئ. ۴. خپل شرم ځایونه له بدو وساتئ. ۵. خپلې سترګې د نامحرمو له لیدو نه ښکته کړئ. ۶- او لاسونه مو چاته د زیان رسولو نه رابند کړئ.

(مسلم)

شهادت   درېیم کال، ۳ مه ګڼه، پرله پسې ۱۰۳ مه ګڼه   چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د وري ۲۴ مه   د۱۴۳۲ هـ ق د جمادی الاول ۱۰ مه   د۲۰۱۱ م د اپریل ۱۳ مه

کرزی:
برای بحث روی روابط ستراتیژیک با امریکا لویه جرگه دایر می گردد

کابل، رسانه ها:
رئیس جمهور کرزی میگوید که کارهای سند همکاریهای ستراتیژیک افغانستان با امریکا، زمانی به پیش خواهد رفت که امریکا خواسته های افغانستان را در این مورد بپذیرد.
حامد کرزی رئیس جمهور افغانستان، مؤرخ (۲۲حمل)، در یک کنفرانس خبری در کابل، گفت که امریکا دو هفته قبل سند همکاریهای ستراتیژیک را به افغانستان پیشکش نموده است.
وی افزود که تحقیقات همه جانبة افغانستان در مورد این سند ادامه دارد و روز گذشته، در شورای امنیت نیز مورد بحث قرار گرفت.
کرزی علاوه کرد که خواسته ها و دیدگاه های افغانستان، در مورد این سند شناسایی گردیده و به امریکا پیشکش خواهد شد.
وی در مورد خواسته های افغانستان در قبال این سند گفت: "شرایط زیادی گذاشته ایم، دستها و پاهای ایشانرا بسته نموده ایم."
وی علاوه کرد که مهمترین شرط، آوردن صلح و تامین امنیت در افغانستان است.
کرزی همچنان گفت که چگونگی کمک، جلوگیری از عملیات خودسرانه وکارهای که مانع تقویت حکومت افغانستان میشود و قانونمند نمودن حضور نیروهای خارجی در افغانستان نیز از جملة شرایطی است و در این مورد، اوضاع و شرایط منطقه نیز باید در نظر گرفته شود.
موصوف گفت که کار این سند، در صورتی به پیش خواهد رفت که خواست های افغانستان پذیرفته شود.

بقیه در صفحه ۴

ترکیه برنامه ایجاد دفتر سیاسی برای طالبان را ترتیب می دهد

PROPERTY OF ACKU

رادیو آزادی:
ترکیه روز دوشنبه اعلام داشت بخاطر پیشرفت گفتگوها غرض پایان جنگ در افغانستان می خواهد تا موضوع ایجاد یک دفتر طالبان مسلح را مورد بررسی قرار دهد. از سوی دیگر یک مقام افغان گفته است که این برنامه ترکیه در حال پیشرفت است.
سربازان ترکی در تلاش های به رهبری ناتو در افغانستان سهیم هستند اما نقش آنها غیر محاربوی می باشد.
ترکیه به حیث یک قدرت منطقه ای می خواهد در زمینه حل برخی از منازعات فرا تر از مرزهایش میانجیگری کند.
عناصر تندرو طالبان که بر اساس گزارش آژانس خبری اسوشیتدپرس رهبران شان در جنوب غرب

بقیه در صفحه ۴

فرانسې په رسمي ډول پر حجاب بندیز ولګاو

فرانسه، رسنی:
په فرانسې کې هغه قانون په رسمي توګه نافذ شو، چې په عامه ځایونو کې پر مخ پټوني یا حجاب بندیز لګوي، فرانسه لومړنی اروپایي هېواد دی چې داسې یو بندیز لګوي.
ویل کېږي، دا بندیز به تر ټولو زیات پر هغو مسلمانو ښځو اغیز وکړي چې په عامه ځایونو کې مخ پټوي.
هغوي چې له دې بندیز څخه سرغړاوی وکړي یو سلو پنځوس ایرو جرمانه کېږي او همدارنګه یې په فرانسوي تابیعت کې هم ستونزې رامنځ ته کېږي.
هغه سړي چې پر خپلو میرمنو د حجاب اغوستلو زور اچوي له دې قانون له مخې به نقدي جرمانه ورکوي او زنداني کېږي به.

پاتې ۴ مخ

د کابل بانک ناورین کورني او بهرني لاملونه درلودل "کرزی"

کابل، رسنی:
په کابل بانک کې د اقتصادي ناورین تر پېښېدو یو کال وروسته افغان ولسمشر په دغه بانک کې د پېښ شوي جنجال د لاملونو د څېړلو خبره کوي.
ولسمشر حامد کرزی وایي، د کابل بانک اقتصادي ناورین کورني او بهرني لاملونه درلودل، چې په هغو کې د دې بانک د اداري پلاوي غفلت او د بهرنیانو ناسمې مشورې شاملې دي.
ښاغلی کرزی خبرداری ورکوي، چې د بانک پخواني شریکان بیا نه شي کولی په بانک کې شراکت ولري او دوی باید په یوه میاشت کې خپل حسابونه خلاص کړي:
"د کابل بانک بله برخه د هغه پخواني شریکان دي، چې ناسم پورونه یی اخستي او ناسم اقدامات یی کړي، هغوی اوس د بانک له شراکته ایستل شوي دي.
دوي نور په دغه بانک کې ونډه نه لري، هغوي چې پورونه یې ورکړي او اخیستي په یوه میاشت کې به حسابونه خلاصوي، هغوي چې حسابونه یې خلاص کړي ښه او چې حسابونه یې نه دي ورکړي افغان دولت به ورسره قانوني چلند وکړي."
کابل بانک چې د افغانستان د لویو بانکونو په سر کې راتلی، پروسږ کال له ناورین سره مخ شو او واک یې د افغانستان بانک واخیستی.
ولسمشر کرزی وایي تمه ده، چې د افغانستان بانک به امریکا او نورو اروپایي هېوادونو ته چې د افغانستان پیسې یې په بانکونو کې

پاتې ۴ مخ

آمادگی روسیه برای گفتگو با طالبان

صفحه دوم

عبدالله کامه وال

د لیبیا ولسمشر معمر القذافي وپېژنئ

درېیم مخ

افغان جرګه د پاکستان ټیکاو ګواښي "زرداري"

تاند:
د پاکستان ولسمشر اصف زرداري وایي، چې افغان جرګه پاکستان بې ټیکاوه کوي او په دغه هیواد کې پرویز مشرف د یوې لسیزې پوځي ډیکټاتوری وروسته یې د ولسواکي د بیا فعالولو د ادارو او اقتصادي غوړېدا هڅې کمزورې کوي.
نوموړي له برتانوی ورځپاڼې ګارډین سره په ځانګړې مرکه کې زیاته کړه، چې د افغان جرګې د پای ته رسولو لپاره کمزریو هڅو په پاکستان کې پراخې اندېښنې پیدا کړې دي.
ولسمشر زرداري دا هم وویل، چې دی او د پاکستان نور لوړپوړ چارواکي او ټول ګوندونه په افغانستان کې د سولې ټینګښدلو ملاتړ کوي، خو د سولې پروسه باید د افغانانو په لاس کې وي او پاکستان چمتو دی، چې رول پکې ولوبوي.
هغه زیاته کړه، چې په بلوڅستان کې د

پاتې ۴ مخ

طی هفته گذشته در افغانستان ۲۰۰ نفر کشته و ۷۰ نفر زخمی شده اند

ریا نووستی:
طی هفته گذشته در افغانستان مجموعاً ۲۰۴ نفر کشته و ۶۸ نفر زخمی شده اند، در این باره زمری بشری سکرتر مطبوعاتی وزارت داخله جمهوری اسلامی افغانستان در کنفرانس مطبوعاتی در روز یکشنبه خبر داد.
به گفته سکرتر مطبوعاتی، در جمله کشته شدگان ۱۸۵ نفر شورشی، ۱۰ نفر ملکی و ۹ ماموز پولیس شامل اند. در جمله زخمیان ۳۴ نفر ملکی، ۲۹ جنگجو و ۵ کارمند وزارت داخله شامل می باشند.
معلومات بشری تلفات در صفوف نیروهای اردوی ملی افغانستان را در بر نمی گیرد.

بقیه در صفحه ۴

د (CIA) او (ISI) ترمنځ د همکاری بنسټ پوخ دی

آزادي راډیو:
د پاکستان د پوځي استخباراتو د ادارې مشر جنرال شجاع پاشا پرون د امریکا د استخباراتو د مرکزي ادارې له مشر سره وکتل:
د راپورونو له مخې شجاع پاشا او د CIAمشر لیون پانېټا په خپله کتنه کې د پاکستان په قلمرو کې د امریکا په استخباراتي عملیاتو کې د دې هېواد د ونډې د زیاتولو په اړه د پاکستان پر غوښتنه بحث وکړ.

پاتې ۴ مخ

سرمقاله

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د حجاب په خلاف د فرانسې ظالمانه او غیر انساني اقدام

په فرانسه کې هغه قانون په رسمي توګه نافذ شو چې په عامو ځایونو کې د ښځو پر حجاب او مخ پټونې بندیز لګوي، فرانسه لومړنی اروپایی هېواد دی چې داسې یو بندیز لګوي.

دا بندیز به تر ټولو زیات پر هغو مسلمانو ښځو اغیز وکړي چې په حجاب کې ګرځي. کومې ښځې چې له دې بندیز څخه سرغړاوی وکړي یو سلو پنځوس ایرو جرمانه، او په فرانسوي تابعیت کې به یې ستونزی رامنځ ته کېږي، لدې برسېره د ښځې خاوند به هم زندان کې اچول کېږي. فرانسه په ختیځه اروپا کې هغه هېواد دی چې تر ټولو زیات مسلمانان پکې اوسېږي او شمېر یې نږدې شپږ میلونو ته رسېږي.

د فرانسې د حکومت دغه اقدام نه یوازې دا چې د دیموکراسي په خلاف یو ناروا کړنه ده بلکې د انساني طبیعت په خلاف هم دی.

په نړېواله کچه دا منل شوې خبره ده چې د هر مذهب او هرې عقیدې خاوند دخپل مذهب او دین پر احکامو د عمل کولو بشپړ حق لري هېڅوک نشي کولی چې له هغوی نه دا حق په زوره سلب کړي.

ښځو ته حجاب کول د اسلام په سپېڅلی دین کې یو څرګند امر دی او هرې مسلمانی ښځې ته دا حق ور کول شوی چې پخپل دین عمل وکړي، دا چې فرانسې پر مسلمانو ښځو د حجاب بندیز لګولی دی دهغوی دغه کړنه په دې خبره څرګند دلالت کوي چې د فرانسې حکومت نه د اسلام دین زغملو ته چمتو دی او نه هم د اسلام په عقیده د سنبالو مسلمانانو د لیدلو حوصله لري، که داسې نه وي نو که یوه مسلمانه ښځه خپل مخ پټوي نو ددې به څه ضرر وي؟ دمخ په پټولو سره خو هېچاته تکلیف او تاوان نه رسېږي، او که د مخ په پټولو سره تاوان رسیدلی شي نو بیا خو د پتلون، دریشي او کوټ اغوستو سره هم باید تاوان ورسېږي، که د ټول بدن په پټولو سره امنیت ته نقصان نه رسېږي نو د پنځه او شپږ انچ مخ په پټولو سره به څه نقصان ورسېږي؟ که واقعاً فرانسه د شپږ انچ مخ په پټولو امنیت ته خطر محسوسوي او بندیز ورباندې لګوي بیا خو پر کوټ او پتلون هم بندیز لګول پکار دي، متل دی چې غوا که توره ده شیدې یې سپینې دي، که د فرانسې حکومت پر حجاب د بندیز په اړه څومره دلایل ور کړي هېڅوک ورسره نشي منلی بلکې دهغه دغه غیر عادلانه اقدام یوازې او یوازې له اسلام او مسلمانانو سره ښکاره ذښمني او د جنګ اعلان بولي، نن یې د امنیت په بهانه پر مسلمانو ښځو د حجاب بندیز لګولی دی سبا ته به بیا په یوه بله بهانه پر قرآن کریم او نبوي احادیثو او بل سبا ته به بیا په مسجدونو او لمونځونو بندیز ولګوي.

د فرانسې حکومت چې پر مسلمانو ښځو د حجاب کوم بندیز اعلان کړیدی دا په حقیقت کې د ټولې نړۍ د مسلمانانو په دین او عقیده ښکاره تیری او د جنګ اعلان دی. د فرانسې حکومت ددغه ناوړه عمل له لارې هڅه کوي چې په ګرده نړۍ کې د ګډوډۍ اور ته لمنه ووهي، مسلمانان راوپاروي او په دې توګه د نړۍ امن ته خطر پېښ کړي.

په نړۍ کې داسې هېواد نشته چې هلته د مسلمانانو، عیسویانو، یهودانو او نورو مذاهبو پیروان یو ځای ګډ ژوند ونلري او هر یو پخپلو مذهبونو د عمل کولو حق ونلري که فرانسه د مسلمانانو پر دین تیری کوي او مسلمانې ښځې پخپل دین له عمل کولو او د حجاب له اغوستو منع کوي نو ددې څرګند پیغام دا دی چې هغه په ګرده نړۍ کې د مذهبي تعصبونو او پر یو بل د تیریو لاره هوارول غواړي، که فرانسه خپل دغه پرېکړه واپس وانخلي نو ددې امکان بالکل نشي رد کیدلی چې په ګرده نړۍ کې به مذهبي جګړې سراوچت کړي او ددې اغیزې به دومره ناوړې او خطرناکې وي چې مخنیوی به یې د هیچا په وس کې نه وي.

اسلامي کانفرانس، ملګرو ملتو اداره او اروپایي ټولنې ته پکار دي چې فرانسه د خپلې دغې پرېکړې په واپس اخستلو مجبور کړي. تر څو د نړۍ امن ته تاوان ونه رسېږي او د مختلفو مذاهبو پیروان چې په ګرده نړۍ کې یو ځای په امن کې ژوند تیروي او یو بل زغمي پخپلو کې په خونړې جګړه کې رانښکیل نشي.

آمادگی روسیه برای گفتگو با طالبان

اعزامی

روسها آمادگی شان را برای مذاکره با طالبان در حالی ابراز می دارند که ایالات متحده امریکا و شرکای نظامی اش در ناتو در تفاهم با دولت افغانستان مصروف گرفتن آمادگی برای اخراج تدریجی نیروهای شان از افغانستان می باشد. ضمیر کابلوف نماینده خاص روسیه در افغانستان، چندی قبل ضمن یک کنفرانس مطبوعاتی به خبرگزاری ها گفت: باوجودیکه کشورش تماس مستقیم با طالبان ندارد، اما مسکو از آشتی ملی مشروط در افغانستان حمایت می کند و حاضر است درین باره با طالبان وارد مذاکره شود. قبل برین مقامات روسیه همیشه در برابر خبر مذاکره با طالبان واکنش منفی نشان داده و ایالات متحده امریکا و سایر اعضای ناتو را از اعادۀ رژیم طالبانی در کابل هشدار می دادند. شاید یک عامل نرمش موضع روسها در برابر حضور نیروهای امریکایی و ناتو در گذشته این مسأله بوده باشد که مبادا خروج این نیروها از افغانستان، موجب بازگشت طالبان به قدرت شده و بار دیگر سرحدات جنوب روسیه از خاک کشورهای تازه به استقلال رسیده آسیای مرکزی (حوزه نفوذ ماسکو) تهدید گردد.

روسیه بخاطر ادامۀ حضور نیروهای امریکا و روسیه تا محو تهدیدهای دهشت افگنی، دو سال قبل با امریکا و ناتو وارد مذاکره شد و با موافقه گشایش یک دهلیز ترانزیتی با عبور از هوا و زمین روسیه و کشورهای آسیای میانه، مشکل اکمالاتی آنها را مرفوع ساخت. روسها با گشایش این دهلیز در حقیقت تلاش داشتند تا امریکایی ها را تشویق نمایند که بخاطر سرکوبی دهشت افگنی در منطقه، در افغانستان حضور دراز مدت داشته باشند و با فرسایشی شدن جنگ درین کشور، نیروهای ناتو به سرنوشت قشون سرخ شوروی سابق به افغانستان مواجه شوند. ولی از قراین پیداست که کارشناسان نظامی ایالات متحده امریکا و متحدین غربی اش، عواقب حضور دراز مدت نظامیان خود را بنابر تحلیل و ارزیابی دقیق اوضاع، صائب ندانسته و در کنفرانس لزبن فیصله کردند که مطابق ستراتیژی از قبل اعلام شدۀ اوباما، خروج نیروهای ناتو از جولای سال ۲۰۱۱ آغاز و تا اخیر سال ۲۰۱۳ تمام خواهد شد و طی این مدت نیروهای امنیتی افغانستان مسؤولیت انتظام امور دفاعی و امنیتی کشور شان را به عهده خواهند گرفت.

تغییر موضع روسها بیشتر روی این محور میچرخد که در صورت خروج نیروهای ایالات متحده امریکا و ناتو از افغانستان، طبیعی است که این تحول، مانع بزرگ آشتی میان دولت افغانستان و مخالفان مسلح از سر راه برداشته شده و طالبان بنابر مساعی صلح جویانۀ دولت افغانستان که همین اکنون با تأسیس شورای عالی صلح، کار آن به شدت ادامه دارد، وارد مذاکره و گفتگو با دولت شده و در نتیجۀ مصالحه و آشتی میان طرفین، قضیه افغانستان حل می گردد و بدین ترتیب مخالفان مسلح از مخالفت دست کشیده و در کنار دولت قرار میگیرند. بناءً مخالفت ماسکو با طالبان به جایی نرسیده و روسها بیشتر از پیش نزد افغان ها مردود میشوند.

از جانب دیگر آمادگی و حمایت روسیه از مذاکره با طالبان، در حقیقت دادن امتیاز به طالبان است و شاید آنها نیز از این انعطاف پذیری استقبال نمایند. چنانچه دولت افغانستان نیز از آمادگی روسیه برای مذاکره با طالبان، اظهار خوشبینی کرد و نقش روسیه را در روند صلح با مخالفان مسلح مهم تلقی نموده و از سیاست حمایت ماسکو از مذاکرات صلح استقبال نمود. حامد علمی معاون سخنگوی ریاست جمهوری در واکنش با این اعلام سفیر روسیه، به رسانه ها گفت: پروسه صلح را که دولت افغانستان به راه انداخته است از حمایت کامل جامعه جهانی برخوردار است و این حمایت در کنفرانس های لندن، کابل، لزبن و مونیخ ابرام گردیده است و حمایت روسیه از این پروسه بر قوت آن می افزاید و ما از آن استقبال می کنیم، زیرا روسیه در منطقه یک کشور مهم است و حمایت روسیه از روند صلح، به منفعت ماسکو و کابل می باشد.

به باور صاحب نظران، روسیه در هماهنگی با ایالات متحده امریکا و سایر کشورها، بر پاکستان فشار وارد خواهد کرد تا اسلام آباد نیز از حمایت مخالفان دولت افغانستان دست کشیده و آنها را به پیوستن به پروسۀ صلح وادار سازد. بنابر روابط دیرینۀ روسیه با افغانستان، اکثر زیر بناهای اقتصادی و تأسیسات نظامی افغانستان، ساخت روسیه می باشند و حتی در بعضی موارد امریکا و ناتو خود تلاش دارند تا روسها را تشویق نمایند که در اکمال پروژه های متذکره با افغانستان همکاری نمایند. سهمگیری فعال روسها درین زمینه ها زمانی قوت بیشتر گرفت که چندی قبل حامد کرزی رئیس جمهور افغانستان به مسکو سفر کرد و با امضای تفاهم نامۀ مشترک توجه مقامات کرملین را در سهمگیری فعال روسیه برای بازسازی افغانستان جلب کرد.

به باور بعضی از کارشناسان نظامی، عامل دیگر نرمش روسها در برابر طالبان احتمالاً این نکته می باشد که در سالهای اخیر روسها، امریکا و ناتو را تشویق می کرد تا به بهانۀ مبارزه علیه تروریزم و القاعده در جنگ رویا روی و فرسایشی در افغانستان باقی بمانند، مگر زمانیکه امریکا ادامه این وضعیت را به نفع خود ندانسته و به فکر اخراج

بقیه در صفحه ۴

په تشو غوښتنو کارونه پرمخ نه ځي

محمد خلیل

تېره اونی ولسمشر کرزي پخپل یوې راډیویي وینا کې له ولس نه غوښتنه وکړه چې د خوښیو په مراسمو کې دې د هوایي ډزو له ناوړه دود څخه لاس واخلي، او د هوایي ډزو ناوړه عواقبو ته د اشارې په ترځ کې وویل: د هوایي ډزو له لامله د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې زموږ ډېرو خوینډو او ورونو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی او ګڼ شمېر ټپیان شوي دي. د همدغو هوایي ډزو له لامله ګڼو کورونو، دوکانونو، پخو فصلونو او درمندونو اور اخیستی او له منځه تللي دي او زموږ خلکو ته یې ګڼ ځاني او مالي زیانونه اړولي دي، ولسمشر زیاته کړه: پر ځاني او مالي زیانونو سربېره هوایي ډزې ډېر روغتیایي ناوړه عواقب هم لري. ماشومانو ته له ډزو ویره پیدا کېږي او پر روحیاتو یې ناوړه اغیز کوي. پر ناروغانو، سپین ږیرو او د امیدوارو میرمنو پر روغتیا او رواني حالت هم بد اثر لري، څکه په هېواد کې د پرله پسې جګړو له لامله ډېرو هېوادوالو د وسلو له ډزو سره حساسیت پیدا کړی دی.

د کرزي صاحب دغه خبرې بالکل پرځای او د منلو دي، هغه وګړي چې واقعاً د ښه او پاک ضمیر خاوندان دي د ولسمشر ددغې غوښتنې هرکلی کوي. د هېواد ټول وګړي نه بې احساسه دي او نه هم بې ضمیره، د همدغو با احساسو او با ضمیرو خلکو له برکته افغانستان تراوسه آباد دی، هغوی په هر کار کې له وړاندېنه فکر کوي چې کوم کارونه ترسره کوي هغه د اسلام په مقدس دین کې حلال دي او که حرام؟ هېواد او ولس ته یې ګټه رسېږي او که تاوان؟ دا ډول فکر لرونکی افغانان کله هم داسې ګامونه نه پورته کوي چې خپل دنیا هم خرابه کړي او آخرت هم، دوی لپاره یوازې د الله جل جلاله او دهغه د رسول محمد صلی الله علیه وسلم د حرمت او حلت حکمونه کافي دي، دوی په هر حالت کې د چا له ویرې پرته د اسلام له سپېڅلي احکامو نه سرغړونه نه کوي او نه هم د قانون په وړاندې خنډونه جوړوي، ودونه هم د اسلام په چوکاټ کې کوي او نور کارو بارونه هم د اسلام په رڼا کې پرمخ بیایي، دا خلک نه چا لپاره خطر ګرځي او نه هم څوک تر ښه د ظلم او زیاتي ویره محسوسوي، دا د ټولنې شریف، با احساسه، با ضمیره او بادرده وګړي دي. خو یو شمېر وګړي هغه دي چې هغوی همېشه د خپل نفس بندګي کوي بې ضمیره او بې احساسه دي نه د چا تکلیف ته ګوري او نه هم د چا اوښکو او سلګیو ته، هغوی تل د داړونکو ځناورو په څېر د بل چا په ښکار کولو سره فقط خپل نفس خوشالوي، دا ډول وګړي نه د قانون احترام کوي او نه هم د انساني کراماتو خیال ساتي، همدوی دي چې له قانونه بې پروا په ارتنه تنی هر چېرته د جرمونو بازار یې ګرم کړی دی. ډاکې، غلاګانې، چور او چپاول کوي د خلکو پر عزت، مال او ناموس تېری کوي، د بدمعاشۍ او ویرې ترهې اډې جوړوي، نشې او تماشې کوي مرګونه او اختطافونه کوي، په اوږو کلاشینکوف او په جیبونو کې تمانچې ګرځوي، د سیمې نیک او ښه خلک په مرګ تهدیدوي، د حق له ویلو څخه منع کوي، پرخلاف یې دسیسې او توطیې جوړوي، دا هرڅه دوی پخپل قوت نه بلکې د حکومت د فاسدو او رشوت خورو چارواکو په مرسته ترسره کوي، دهغوی په ملاتړ او مرسته د جرمونو بازار ګرموي او په دې ډول خپل جیبونه له حرامو پیسو نه ډکوي.

نن سبا د قانون احترام کوونکی او شریف وګړي ذلیل مګر فاسد عناصر بې تاجه پاچاهان دي، ولسوالان هم دهغوی په خوله دي او والیان هم، پلونه، سړکونه، ښوونځي او شفاخانې دهغوی له خوښې پرته نشي جوړېدلی، په هغه کې هم خپل غنډه ټېکس ترلاسه کوي، تر څو پورې چې لومړی هغوی ته سهم نه وي ورکول شوې نه څوک چېرته پل جوړولی شي او نه هم ښوونځي، روغتون او ټول ګټې پروژه پرمخ وړې شي، د قوم او دین دغه غداران ولسوالانو ته هم محترم دي او والیانو ته هم، په ټولو کارونو کې همغوی مطرح دي او له همغونه مشوري اخستل کېږي.

کرزی صیب ! په خدای باور وکړه چې ملت د همداسې بدمعاشانو، او بې کفایته خائینو حکومتي واکدارانو په لاس کې یرغمل دی، د بې چاره ملت په لاس کې هېڅ نشته، هغوی د ځاړه اسویلو د ویستلو پرته بل هېڅ نشي کولې، دلته د ځنګل قانون حاکم دی، کمزوري د زورور خوراک دي. څومره ډاګونه او شاړې زمکې چې نومرې شوي دي په سلو کې نوي همدغو غونډه ګانو اخستي او په نورو یې په ګرانه بیه خرڅوي، ستا حکومت صرف تر ارګه پورې محدود دی له ارګ نه دباندې بدمعاش او فاسد عناصر د خلکو په سرنوشت لوبې کوي، د یو هېواد د ولس مشر په توګه ستا کار دا نه دئ چې له مجرمانو او شریرانو نه د جرمونو او شرارتونو د پرېښودلو سوال وکړې، بلکې ستا اصلي دنده داده چې د داسې وګړو په خلاف قانون په کار واچوې، په دې هېواد کې قانون برلاسی کړې، له قانون نه هر تخلف کوونکي ته عبرتناکه سزا ورکړې ظالم ذلیل او مظلوم ته عزت ورکړې، که دا هېواد په سوالونو او منتونو جوړېدای نو له ډېر پخوا نه به جوړ شوې و، دلته د ظالمانو او خواهش پرستانو جرړې دومره مضبوطې شوي دي چې ان د حکومت ټولو ادارو ته غځېدلي دي، ددغو جرړو د ختمولو لپاره انقلابي اقدام او د قانون عملي نفاذ ته ضرورت دی، په حکومت کې د زبردستو چانیزو اصلاحاتو ته اړتیا ده، تر څو پورې چې له حکومت څخه دغه فاسد عناصر لیرې نشي او قانون په صحیح معنی پلی نشي هسې په غوښتنو او منتونو د جرایمو مخه نشي نیول کېدلی.

که چېرته تاسې د ملت د ولسمشر په توګه خپل مسؤولیت په صحیح معنی ادا کول غواړئ او د خپل ولس آرام ژوند ته لیوالتیا لرئ نو بیا په ځوان عزم او صمیم هود سره د عمل په ډګر کې ګامونه اوچت کړئ، دا هېواد د بدمعاشانو، شرابیانو، رشوت خورو، فاسدو عناصرو او وطن پلرونکو له پلیتو منګولو څخه وژغورئ. تر څو پورې چې دغه داړونکي شرمښان له صحنې نه لیرې او د قانون منګولو ته ونه سپارل شي، په هېواد کې به نه د ډزو سیالي ختم شي او نه به هم د ظلم او استبداد روانه لړۍ پای ته ورسېږي.

د لیبیا ولسمشر معمر القذافي وپېژنئ

عبدالله "کامه وال"

د شمالي افريقا په یوه برخه لیبیا کې د تېرو ۴۱ کلونو راهیسې یو دیکتاتور حکمران حکومت کوي، دا دیکتاتور حکمران ډگرمن معمر القذافي نومېږي. چې په ۱۹۶۹ عیسوي کال کې د یو خونړي بغاوت په نتیجه کې یې د لیبیا واگی ترلاسه کړ، ده د خپلې واکمنۍ په دوران کې د خپلو مخالفینو د ځپلو لپاره له هیڅ ډول حربې دریغ نه دی کړی، معمرالقذافي د خپلې یو خلوېښت کلنې واکمنۍ په دوران کې تل د انساني حقونو د سرغړونکي په توگه یاد شوی دی. او د نړیوالو له لوري له بېلا بېلو گواښونو سره مخ شوی خو معمرالقذافي نه یوازې دا چې په دفاعي حالت کې پاتې شوی بلکې دهغوی نیوکو ته یې په زغرده او ډېره بې باکۍ ځواب ویلي دی، دې په خپل ځان ډېر مطمئن سړی ښکاري او تل په چارو برلاسی پاتې شوی.

قذافي دوه ودونه کړي، چې لومړۍ مېرمن یې فاتحه خالد وه، فاتحه خالد په ښوونځي کې د ښوونکې دنده درلوده، قذافي دا واده د مور او پلار په خوښه او په ساده او روایتي انداز کې ترسره کړ، دې وایي چې مېرمن یې فاتحه خالد ترهغې نه وه لیدلې تر کومې چې ورسره واده نه و کړې، خو ددوی ترمنځ دې گډ ژوند ډېر دوام ونکړ، تر شپږ میاشتو وروسته جلا شول. د فاتحه خالد نه د قذافي یو زوی محمد القذافي پاتې دی، محمد القذافي د انجنیرۍ په څانگه کې زده کړې ترسره کړې د لیبیا د اولمپیک کمیټې مشر او د یوې نړیوالې پوستې او مخابراتي کمپنۍ مالک هم دی.

دویمه مېرمن یې صفیه فارکس نومېږي، صفیه د لیبیا په روغتونکې نرسه وه نوموړې د بن غازي سیمې اوسیدونکې ده، بن غازي هغه سیمه ده چې دا مهال د قذافي د مخالفینو په ولکه کې ده. صفیه د خپلې سیمې د یوې پرنفوسه او علمي کورنۍ لور ده. د صفیې شپږ اولادونه دي چې پنځه زامن او یوه لور ده، مشر زوی یې سیف الاسلام د انجنیرۍ په څانگه کې زده کړې کړې دي، د ترابلس د پوهنتون رئیس او د حکومت ویاند هم دی.

ویل کېږي چې سیف الاسلام د خپلو نورو ورونو او خور معتصم، حنا بل، السادي او عایشې سره ښې اړیکې نه لري، حنا بل د فوتبال شوقي او د فوځ د یوې فرقې قوماندان دی. خو دده په هکله ویل کېږي چې ډېر بد اخلاقه او په ډېرو بدو کړنو مشهور دی، دې یوازې په لیبیا کې نه بلکې په اروپا کې هم د یو معتاد، شرابي او نورو بداخلاقیو په نوم شهرت لري خو دده بل ورور او خور سیف الاسلام او عایشه په لیبیا کې په ښه نامه یادېږي.

د قذافي دویمه مېرمن صفیه د مصر او تونس د جمهور رئیسانو د ښځو په څېر د سرو زرو د جوړولو او جمع کولو ډېره لېواله ده په وروستیو خپرو شوو راپورونو کې وایي چې د قذافي مېرمن صفیې شل ټنه سره زر او نور قیمتي جواهر لري او د یوې شخصي تیارې مالکه هم ده، صفیې په کور کې د نړۍ د وتلو کمپنیو موټرې شته او د کال تر ټولو نوې موټر ترلاسه کوي. د صفیې ملگرتیا د تونس د جمهور رئیس د ښځې ستاش البراسي سره ده.

د لیبیا واکمن یو عجیب ولسمشر دی هېڅوک په نړۍ کې د هغه په هکله سم فکر نه شي کولی، چې هغه د سبا لپاره څه کول غواړي او نن په څه چارو بوخت دی، څو اوونۍ وړاندې کله چې په لیبیا کې ولسي بغاوت پیل شو نو هغه وویل چې ددې بغاوت ترشا د القاعده لاس دی، خو وروسته یې وویل چې غرب دې دده د مخالفینو سره د کمک نه لاس واخلي او پر لیبیا دې د هوایي بریدونو ډډه وکړي که نه دې به له القاعده سره ملگری شي او د غرب پرخلاف به لوی جنگ پیل کړي. دې په خبرو کې د یو سیاستمدار په انداز کې نه بلکې د یو جگړه مار په توگه خپل خیالات څرگندوي.

دده ملگرو ملتونو په یوه غونډه کې د سومالیا د قذاقانو او د افغانستان د طالبانو په ملاتړ یوه احساساتي وینا وکړه. دده په دې احساساتي وینا او دومره جرأت د غونډې گډونوال هک پک شول، دده مزاج یو جگړه ییز او جنجالي مزاج دی هغه څه چې نورې کوي او وایي دا یې باید مخالفت وکړي. دې یو نه یو ځای کې په جگړه او لانجه اوړي، یو ځل په یو رسمي سفر نایجریا ته ولاړ، ده په دې سفر کې له ځانه سره دوه سوه مسلحې ښځینه ساتونکې یوړې کله چې تیاره د نایجریا په هوایي ډگر ښکته شوه، ځایي امنیتي چارواکو د سلاح د اخیستو غوښتنه وکړه پر دې خبره قذافي داسې غوسه شو چې گومان یې نه کېده شخړه تر ولسمشر ورسېده، د نایجریا ولسمشر د شخړې د هوارې او د قذافي د درناوي په خاطر هوایي ډگر ته راغې. د نایجریا ولسمشر وړاندیز وکړ چې اسلحې دې ثبت او تر ثبتولو وروسته دې بېرته د قذافي ښځینه گاردانو ته ورکړ شي خو قذافي ویل چې له همدې ځایه بېرته خپل هېواد ته ستنېږي که څه هم چې مسأله څنگه چې نایجریا غوښتل حل شوه خو ده خپل شوق پوره کړ.

قذافي خپله سیاسي ټگلاره شبېه په شبېه بدلوي او همدا علت دی چې دهغه اصلي څېره تر هغې چې په دې ملک جنگ نه وه راغلې چا نه وه پېژندلې. په څلور لسیزو حکمرانۍ کې دا اندازه چا ونه لگوله چې رښتیا هم دا په خپل ولس گران دی لکه څنگه چې دې ځان ښایي او رښتیا هم دا د استعماري قوتونو مخالف دی او که دا هم یوه ډرامه ده. لکه څنگه چې د لیبیا ولس دده د سیاست او عادتونو ناخبره دی همدارنگې دده د اصلي نومه هم پوره خبر نه دی، دده نوم په بېلا بېلو ښارونو کې په بېلا بېل تلفظ کېږي، ځینې خلک ورته گهتافي، ځینې ورته کدافي او ځینې یې د قذافي په نامه یادوي.

لکه څنگه چې مو مخکې یادونه وکړه دې د عجیبه خواصو او عادتونو خاوند دی، دې خپل عادت په خپل او پردي ملک کې یو شان کوي، همیشه چې کوم هېواد ته سفر وکړي ددې پر ځای چې د ولسمشرۍ په ماڼۍ او یا یو لوړ پوړي هوټل کې دېره شي صحرا ته ځي او هلته خیمه وهي. خو نور عادتونه یې بیا ددې عمل پرخلاف دی د بېلگې په توگه د قذافي لباس په نړۍ کې ځانگړې شهرت لري، دې عجیبه کارونه کوي په دوه زره اووم کال کې یې فرانسې ته سفر درلود په دې سفر کې ورسره څلوېښت کسیز پلاوی مل و او د پلاوي ترڅنگ یې ځان سره یو اوښ هم فرانسې ته یوړ، دا سفر په پنځو تیارو کې ترسره شوې وو. بله عجیبه خبره داده چې دده ساتونکې یا گاردان ټولې ښځې دي چې شمېر یې تر پنځو سوو رسېږي.

قذافي له اقتدار نه مخکې په خپل یو کتاب کې چې شین نومېږي لیکلي وو چې ښځې باید د کور چارې سمبال کړي او په نورو چارو کې زیاته ونډه وانخلي دا چې ولې قذافي خپلې ساتونکې ښځې غوره کړي ویل کېږي چې عربان د ښځو مرگ په ښځو گوزار او هغوی سره شخړه د ځان لپاره پېغور گڼي نه غواړي چې له ښځو سره جگړه وکړي او ښځې د نارینه وو له لاسه مړې شي.

خو قذافي په دې هکله وایي چې ښځې عسکري زده کړې ښه کوي او د دښمنانو د سازشونو ښکار کېږي نه، خو لیبیایان وایي چې له دې ښځو د ساتونکو په توگه نه بلکې د قتلونکو په توگه کار اخیستل کېږي.

په ۱۹۹۸ کال کې پر قذافي یو وژونکې حمله وشوه په دې حمله کې د قذافي یوې نږدې ساتونکې عایشې پر قذافي ځان وروغورزاوه، او پر قذافي راتلونکې ټولې گولۍ پر عایشې ولگېدې، عایشه په تکې مړه شوه خو قذافي ته یې نجات ورکړ. وایي چې هغه نجونې چې په د جمهور رئیس په گارډ کې شاملېږي نو څوگند ورکول کېږي چې خپل ځان به پر قذافي قربانوي. دا نجونې چې کله په گارد کې داخلېږي باکره وي، او په گارد کې تر شاملېدو مخکې یې طبي معاینات کېږي دا نجونې تر هغې ځوانې وي تر کومه چې د قذافي په گارد کې شاملې نه وي، دا نجونې وروسته بیا د قذافي د هوسونو ښکار کېږي خو پخپله قذافي دا ډول تورونه په کلکه ردوي.

د ساتونکو نجونو دا پنځه سوه کسیز ټولگی د قذافي له لوری د الشورات، الراهبات او الانقلاب په نامه یاد شوی خو غربي مطبوعاتو دا گارد د امازونین په نامه یاد کړی دی، له دې پنځه سوو تنو یې څلوېښت تل د قذافي ترڅنگ وي. په گارد کې د شاملېدونکو نجونو غوره کول په خپله د قذافي کار دی، د نجونو د عسکري زده کړو لپاره یې کالج جوړ کړی چې هلته دې نجونو ته سخت نظامي تربیت ورکول کېږي په کالج کې د مارشل ارټس چې یو ځانگړی فوځي تمرین دی ورکول کېږي او د هر ډول اسلحو د استعمال ورښودل کېږي، قتلونکې نجونې په رنگارنگ زیوراتو او ښکلې کوونکو شیانو ښکلې وي. د جگو پوندو درلودونکو بوټان یې پر پښو وي او تل د تیار اوسېدو په حال کې وي. د غرب په لباس کې ملبسې ساتونکې نجونې په لیبیا او نوره اسلامي نړۍ کې تل د نیوکو سره مخ شوي خو قذافي وایي چې په گارد کې ددوی شتون د ښځو روحیات لوړ کړي دي او دوی ته یې د ښه ژوند زمینه برابره کړې ده.

پاتې ۴ مخ

د اسلامي تاریخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(یوولسمه برخه)

س۱۹۶: چا د لومړي ځل لپاره په مغرب کې دراهم (پیسې) جوړې کړې؟

ځ: په اندلس کې عبد الرحمن بن حکم اموي، په دریم هجري قرن کښې.

س۱۹۷: چا په میراث کې لومړی د عول (د برخې کموالی) خبره کړې ده؟

ځ: عمر بن خطاب رضي الله عنه.

س۱۹۸: د هغو کسانو نه چې حبشې ته یې هجرت کړی و څوک لومړی وفات شو؟

ځ: عدي بن نضله.

س۱۹۹: د چا نه په اسلام کې لومړی میراث پاتې شو؟

ځ: عدي بن نضله نه د هغه زوي نعمان ته.

س۲۰۰: چا په اسلام کې لومړی میراث واخست؟

نعمان د عدي زوي د نضله لمسی.

س۲۰۱: هغه کوم لومړی نیکه و چې میراث ترې پاتې شو؟

ځ: عمر بن خطاب رضي الله عنه.

س۲۰۲: هغه کوم لومړی کس و چې له دوه نیاگانو نه یې میراث یوړو؟

ځ: عمر بن خطاب رضي الله عنه.

س۲۰۳: هغه کومه ښځه وه چې پیغمبر علیه السلام د خدیجې بي بي نه وروسته ور سره نکاح کړه؟

ځ: د زمعه لور بي بي سوده رضي الله عنها.

س۲۰۴: چا لومړی شراب خور اتیا دورې وهلی دی.

ځ: عمر بن خطاب د علي بن ابي طالب په مشوره.

س۲۰۵: چا لومړی د جهاد په ډگر کې جزا ور کړی؟

ځ: عمر بن خطاب رضي الله عنه.

س۲۰۵: د قریشو نه په ځانگړې توگه او د اهل حجاز نه په عام طور چا لومړی خط مهر کړی دی؟

ځ: محمد صلی الله علیه وسلم.

س۲۰۶: چا لومړی د خاتم دیوان تاسیس کړ؟

ځ: معاویه د ابو سفیان زوي.

س۲۰۷: کله پیغمبر علیه السلام د لومړي ځل لپاره په خپل لاس قتل و کړ؟

ځ: د احد په غزا کې.

۲۰۸: د یهودو نه لومړی څوک د مدینې منورې نه و ویستل شول؟

ځ: بني قینقاع د یهودو لومړی قبیله وه چې د مسلمانانو سره د وعدې د ماتولو په سبب د مدینې منورې نه و ویستل شول.

س۲۰۹: د مهاجرینونو نه لومړی څوک مسلمان شو؟

ځ: ابوبکر صدیق او علي بن ابي طالب رضي الله عنهما.

س۲۱۰: د انصارو نه لومړی څوک مسلمان شو؟

ځ: معذ بن عفراء، او ویل کېږي چې اسعد بن زراره، او دا هم ویل شوي چې رافع بن مالك او معاذ وو.

س۲۱۱: چا لومړی د الله په لاره کې جهاد کړی؟

ځ ابراهیم علیه السلام، کله چې رومیانو لوط علیه السلام بندي کړ نو ابراهیم علیه السلام د هغه د خلاصون په خاطر د هغوي پر ضد جهاد پیل کړ.

س۲۱۲: چا د لومړي ځل لپاره میمنې، میسرې او قلب ته اردو ولېږله؟

ځ: د لوط علیه السلام د خلاصې په موخه ابراهیم علیه السلام ذکر شویو ځایونو ته اردو و لېږله.

س۲۱۳: چا د لومړي ځل لپاره د لښکر کشۍ بیرغونه پور ته کړل؟

ځ: ابراهیم علیه السلام، کله چې هغه خبر شو چې په لوط علیه السلام خلکو حمله کړې نو بیرغونه یې پورته کړل او خپل ازاد او غیر ازاد غلامان د لښکر کشۍ په شکل کې د هغه د ژغورنې لپاره ولېږل.

س۲۱۴: چا لومړی ډال (سپر) جوړ کړ؟

ځ: داود علیه السلام.

س۲۱۵: کومه کچره په اسلام کې لومړی لیدل شوې ده؟

ځ: هغه کچره چې د قبطیانو مشر مقوقس پیغمبر علیه السلام ته ډالۍ کړې وه لومړی کچره وه چې په اسلام کې لیدل شوې ده.

س۲۱۶: هغه شخص څوک و چې خلافت ته ورسیدو او پلار یې ژوندی و؟

ځ: ابوبکر صدیق رضي الله عنه.

س۲۱۷: چا لومړی قرآن په مصحف و نوماوه؟

ځ: ابوبکر صدیق رضي الله عنه.

س۲۱۸: څوک د لومړي ځل لپاره د شپې په تیارې کې و گرځیدو؟

ځ: عمر بن خطاب رضي الله عنه.

س۲۱۹: کوم خلیفه لومړی خپل جانشین وټاکه؟

ځ: ابو بکر رضي الله عنه

س۲۲۰: چا دلومړي ځل لپاره هجا ویونکې (طعن ویونکې) ته جزا ور کړې ده؟

ځ: عمر رضي الله عنه.

س۲۲۱: د بیعهٔ عقبې د بیعت لومړی بند څه شی و؟

ځ: د بیعهٔ عقبې د بیعت لومړی بند د الله سره شرك نه کول و.

س۲۲۲: چا د لومړي ځل لپاره په جنازه کې خلك په څلورو تکبیرونو را ټول کړل؟

ځ: عمر رضی الله عنه، کله چې هغه د صحابوو نه د پیغمبر د تکبیراتو د تعداد پوښتنه وکړه چا څلور، چا پینځه او چا شپږ و ویل، نو عمر رضي الله عنه په څلورو راټول کړل.

(نور بیا)

افغانستان د نړیوالو رسنیو په هنداره کې

واشنګټن پوسټ:
واشنګټن پوسټ ورځپاڼه په افغانستان کې جګړې کورنی سره بیلې کړي، تر سر لیک لاندې په یوه مقاله کې لیکي:
ګل او رازق د خپل عمر ډیرې شپې د ناولي غولي پرسرپه یوې خیرنه بستره کې ویده کېدل.
دوي دواړو به د پټاتو په جوبو کې کار کاوه او په یوه جومات کې به یې لمونځ کاوه، دغه دوه بې وزلې ورونه د افغانستان په یوې لیرې هیره شوې څنډه کې اوسیدل.
واشنګټن پوسټ لیکي، په افغانستان کې شخصي مفکوره هغه اساسي لامل دی چې د امریکا دوست او دښمن سره جلا کوي.
افغان ولسمشر حامد کرزی معمولاً وسله والو طالبانو ته د خوابدو ورونو اصطلاح کاروي.
د واشنګټن پوست په وینا په افغانستان کې د امن سیمه، مرکزي سیمه ده چې د جګړو ځرک په کې نه لیدل کیږي. پر افغانانو د هغوي د دریځ د ځرګندولو لپاره فشارونه د دې سبب شوي چې دوي په مختلفو ډلو ویشل شي.
دې کار نه یواځې دا چې د جګړې د پای ته رسولو هڅې پیچلې کړې بلکه د یوې کورنی په چوکاټ کې یې د دغو دوخوابدو ورونو د بیرته یوځای کېدو هیلې هم مړاوې کړې دي.
ګل او رازق چې له واشنګټن پوست ورځپاڼې سره یې د بشپړ نوم د نه افشا کېدو په شرط خبرې کړې، پاکستان پولې ته نږدې د زابل ولایت په لیرې پرتې سیمې بازرګان کې رالوی شوي. رازق یو کال مخکې د پولیسو له لیکو سره یوځای شو، له هغې ورځې راهیسې دواړه ورونه له یو بل سره خبرې نه کوي. له دغو دواړو ورونو سره واشنګټن پوست په کندهار ښار کې په داسې حال کې مرکې کړې چې دوي دواړه یو د بل له مرکو نه وخبر.
نشنل ریویو:
نشنل ریویو خپرونه د افغانستان په اړه په یوه مطلب کې لیکي، تیره اونی د امریکا دوه نور سرتیري چې د افغان امنیتي ځواکونو د روزلو لپاره دې هیواد ته تللي و، په شمالي ولایت فاریاب کې د یوه پولیس په ډزو ووژل شول.
د مقالې لیکوال لیکي، ددغو دوو سرتېرو په وژل کېدو سره د وژل شویو امریکایي سرتېرو شمېر ۱۷ تنو ته ورسېد او که د نورو بهرنیو سرتېرو قتلونه چې د افغان پولیسو او سرتیرو له خوا شوي په پام کې ونیول شي، شمېر یې ۲۲ تنو ته رسیږي.
نیشنل ریویو زیاتوي، دا یوه نوې پېښه نه وه بلکه دا ډول پېښې دوام لري، د خپروني په وینا افغانستان چې یوه سنتي اسلامي ټولنه او په قبیلوي دودونو ولاړه ده، د نورو مدنیتونو په وړاندې چې کوښښ کوي دغه ټولنه ترخپل اغیز لاندې راولي، دغسې شیوه غوره کړې چې یو ښه مثال یې په دی هیواد کې د پخواني شوروي اتحاد تجربه ده.
نیشنل ریویو خپرونه وړاندې لیکي، که زموږ ماموریت په افغانستان کې له لسو کالو وروسته عبث ښکاري علت یې دادی چې موږ په لومړي سر کې د امریکا ګټې تعقیب نه کړې او نن له دغه خرابه حالت سره مخامخ یو.
موږ افغانستان ته د دې لپاره لاړو چې القاعده شبکه او د هغې کوربانه طالبان وځپوځو په دې هیواد کې ډیر پاتې شو،ځو د هغو کسانو ژوند ښه کړو چې له موږ کرکه لري.

د لیبیا ولسمشر معمر القذافي ...

دوه اونۍ وړاندې یوه اوازه خپره شوه چې پر قذافي د خپلې یوې ساتونکی له لورې ډزې وشوې خو قذافي دا ځل هم له بریده روغ ووتو.
د قذافي یوه پخوانی ساتونکی عزیزه ابراهیم چې ولس کاله یې د قذافي په ګارد کې تېر کړي دي وایي زه په څټه لبناني یمه په ۱۹۸۲ کال کې لیبیا ته راغلم او دلته مې د جمهور رئیس په ګارد کې یوه اوږده موده د ساتونکی دنده ترسره کړې.
عزیزه وایي کومه نجلۍ چې د قذافي په ګارد کې داخلیږي هغه به د خپلې کورنی او اقرباو سره خپلې اړیکې شلوي دا وایي د ګارد د لوړې سطحې نجونې به هغه نجونې وې چې په ګارد کې تر نورو ښکلې وې. عزیزه ابراهیم د قذافي د ظلمونو په هکله وایي چې یوه ورځ د قذافي یو دوست د قذافي په څه خبره شخړه راغله قذافي ماته امر وکړ چې وېولم ما هم په نوموړي تن د ټوپک ډزې وکړې او هغه مې ځای پر ځای وواژه. عزیزه ابراهیم زیاتوي یوه ورځ څلور تنه د مکتب زده کوونکی قذافي ته راغله او په خپلو

ماشومانه عادتونو یې د قذافي سره بحث پیل کړ دا بحث تریخ شو قذافي هغه څلور تنه د مکتب زده کوونکی په خپله مانۍ کې اعدام کړه.
خو موږ ګاردانو یوازې دهغوی تماشه کوله دا د یوې بلې پېښې یادونه هم کوي او وایي چې یوه ورځ ولسمشر قذافي ولس ته تنکي ځوانان چې د کالج زده کوونکی وو په دې تور چې د حکومت پرخلاف دي زموږ ترمخې په خپل لاس حلال کړل، هغوی به چغې وهلې چې زموږ څه ګناه ده خو د قذافي مداهانو به ورته د خائن خائن چغې وهلې حال دا چې هغوی هېڅ ګناه نه درلودله یوازې په داسې مرګونو یې نور خلک وېرول.
عزیزه وایي دهغو تنکو او بې ګناه ځوانانو چغې نن هم زما په غوږو کې انګازې کوي او زه چې هغه وخت راياد کړم نو بیا پر خپل ځان نه پوهېږم او فکر کوم چې په دې ډول مرګونو کې موږ ټول شریک یو، دا وایي که چېرې اوس زه د قذافي په ګارد کې وی نو له دې موقع به مې ښه استفاده کړې وې او قذافي به مې ددې مظلوم ولس له اوږو ښکته کړې و او هم به مې دهغو تنکیو ځوانانو انتقام اخستی و چې زما پر وړاندې یې په تېره چاړه حلال کړه.
دا وایي اوس وخت رارسیدلی چې د قذافي د بې رحمانه چلند کیسې خلکو ته وکړو ځکه د لیبیا ولس د هغه د ظلمونو په وړاندې راولاړ شوې دی او غواړي نور دې اوږدې ظالمې واکمنی ته د پای ټکی کېږدي. خو قذافي اوس هم پر خپل خره سپور دی او په ملي تلویزیون کې د وینا پر مهال وویل چې ما تر اوسه د طاقت د استعمال حکم نه دی کړې ګني هر څه به وسېزم او لیبیا به ایره کړم ده خپلو نږدې ساتونکو ته پیغام ورکړ چې د وروستی حربې په توګه د تیلو پایپونو ته اور واچوي چې لیبیایان پکې وسوځي.

برای بحث روی روابط ...

کرزی گفت: "اگرامریکا روابط میخواهد باید شرایط مارا بپذیرد، ما هم شرایط نامعقول نمیگذاریم."
رییس جمهورخاطرنشان کرد که جانب افغانستان منافع امریکا را که درتضاد با منافع افغانستان نباشد، میپذیرد.
وی با یادآوری اینکه ضمانت اجرایی شرایط یادشده، درسند مذکورجا داده میشود، علاوه نمود که معلومات مفصل در مورد این سند، بعداً مشخص خواهد شد.
کرزی اظهار امیدواری کرد که در دو یا سه ماه آینده، لویه جرګه عنعنوی برګزار وبا ابراز نظردراین مورد رهنمایی نماید.
رئیس جمهور کرزی، روز گذشته از کمیسون مؤظف برای بررسی همکاریهای ستراتیژیک با امریکا خواسته بود تا یک سند همکاری های ستراتیژیک با واشنګتن را تهیه نماید که در آن منافع سیاسی، اقتصادی و نظامی افغانستان مشخص و محفوظ باشد.

رؤسای جمهور افغانستان و ایالات متحدهٔ امریکا، از طریق یک کنفرانس ویدیویی در ماه میزان ۱۳۸۹ روی تهیهٔ سند همکاری های ستراتیژیک طویل المدت میان دو کشور، توافق نموده بودند.
قبل از این، دو اعلامیهٔ ستراتیژیک دوستی در مورد حکومت سازی و تامین امنیت میان افغانستان و امریکا در سالهای ۲۰۰۵ و ۲۰۰۸ میلادی امضا شده است.
افغانستان در سال ۱۳۸۹ در نشست سران ناتو در لیزبون، با این سازمان نیز موافقتنامهٔ همکاری های درازمدت را به امضا وسانده است.

آمادگی روسیه برای گفتگو...

قوا و تأسیس پایگاه های دایمی نظامی در افغانستان افتاد، مسکو نیز تغییر موضع داده، در قدم اول با تأسیس پایگاه های دایمی نظامی مخالفت کرد و الآن با اظهار آمادگی برای مذاکره با طالبان خواست تا منافعی که از درک مصالحه نصیب واشنګتن می شود، سهم خود را بگیرد. زیرا با تحقق پروسهٔ مصالحه و ختم جنگ، دروازهٔ دهلیز اکمالاتی قوای امریکا و ناتو که از خاک و هوای روسیه عبور می کرد، بسته شده و دیگر آن باج و خراجی سرشاری که مسکو ازین بابت بدست می آورد، قطع می گردد.
چنانچه برای توجیه این موضعگیری جدید، سرگی لاوروف وزیر خارجه روسیه با مطرح کردن بیطرفی افغانستان، موضع تأسیس پایگاه های دایمی نظامی امریکا را رد کرد و گفت که بهترین راه برقراری صلح و ثبات در منطقه احترام به سیاست بیطرفی افغانستان است.
لاوروف گفت که روسیه از حضور نیروهای ایساف در افغانستان حمایت می کند، زیرا آنها برای کمک به مردم افغانستان این جا آمده اند و بهمین خاطر روسیه برای آن ها تسهیلات ترانزیت را فراهم کرد. زمانیکه تهدید تروریزم

از افغانستان پایان یابد، آنگاه افغانها خود شان قادر اند که کشور شان را اداره کنند و برای خود هر نوع رژیم و نظام را که خواسته باشند، بر گزینند.
ملت ما ازین نوع موضعگیری ها نوسانی، فرصت طلبانه و منفعت جویانه در سطح جهان و منطقه تجربهٔ فراوان دارد؛ تا دیروز که ایساف و ناتو با طالبان در جنگ بودند و امریکا ندای یاری و کمک از پاکستان و روسیه را سر می داد؛ هر دو کشور با گرفتن باج عظیم و هنگفت بر ناتو، دهلیزهای هوایی و زمینی شان را بر روی کاروان های اکمالاتی ناتو باز کردند تا توانستند ازین درک کیسهٔ خویش را پر کردند و حالا که شایعهٔ صلح گرم گردیده آنها چون "کاسهٔ گرم تر از آش" دست و آستین بر زده و حتی جلوتر از طرفین اصلی قضیه، آماده اند تا با طالبان وارد مذاکره شوند، حتی مقامات این کشورها با فراموش کردن مواضع قبلی شان، اظهار می دارند که برقراری صلح و ثبات در افغانستان بدون کمک آنها ممکن نمی باشد؛ کمال این

کشورها در میدان سیاست اینست که هم در ایجاد بحران و اشتعال جنگ ید طولا دارند و هم در برقراری صلح و ثبات و راه اندازی مذاکرات ! ! پس چه خوب است که دولتمردان ما با انتباه از این واقعیت ها و مواضع بوقلمون صفتانهٔ کشورهای منطقه، هوشیار شون و با گرفتن درس عبرت ازین مکارگی ها به نفع مردم خویش بهره برداری نمایند.

ترکیه برنامه ایجاد دفتر ...

پاکستان مستقر هستند علناً تلاش های حکومت افغانستان برای مصالحه را به استهزا گرفته و می گویند تا زمانی که قوای خارجی از این کشور خارج نشده اند گفتگو ممکن نخواهد بود.
ترکیه به حیث یک کشور بزرگ مسلمان که عضویت ناتو را دارد نقش احتمالی ترکیه در روند صلح افغانستان می تواند برای حل سیاسی جنگ ۱۰ ساله این کشور در تلاش های امریکا ممد باشد.
یک مقام وزارت خارجه ترکیه گفته است در حال حاضر درخواست رسمی برای باز کردن دفتر طالبان در ترکیه و برنامه فوری برای میزبانی گفتگوهای صلح وجود ندارد. این مقام که نخواسته نامش گرفته شود به آژانس خبری اسوشیتدپرس گفته است که اگر تقاضای صورت بگیرد این مساله بررسی خواهد شد.
اگرچه ارسلا رحمانی یک عضو شورای عالی صلح افغانستان گفته است که ترکیه در حال حاضر برنامه های را برای ایجاد یک دفتر طالبان ترتیب می دهد اما این امر مدتی را در بر خواهد گرفت.
رحمانی گفته است که برهان الدین ربانی رییس شورای عالی صلح این مساله را طی دیدار ماه گذشته از ترکیه مورد بحث قرار داده است.
ارسلا رحمانی که خود یکی از مقامات ارشد رژیم سابق طالبان بود گفته است، ترکیه به این موضوع پاسخ منفی نداده است. به گفته وی این مساله کلیدی برای حل مساله افغانستان است.
رحمانی به اسوشیتدپرس گفته است، این برای طالبان مهم است که یک آدرس سیاسی و یک جای برای گفتگوی روبرو با جهان داشته باشند.
وی گفته قبلاً هم یاد آور شده بودند که بدون یک آدرس مشخص حل این مشکل دشوار خواهد بود.
اما کارشناسان می گویند قراری که در عمل دیده می شود شورای صلح پیشرفت اندکی در زمینه کشاندن طالبان به میز مذاکرات داشته است.

د کابل بانک ناورین کورني ...

خوندي شوي، یو لیک ولیږي او له هغوي څخه به وغواړي، چې د افغانستان پیسې بیرته هیواد ته راولیږي او هغه کسان چې دا پیسې یې وروړي هم افغان دولت ته ور وپیژني.
همدارنګه ده وویل، چې یوې معتبرې امریکایي ادارې په کابل بانک کې تر ناورین پیښېدو ، میاشتې وروسته هم د افغانستان بانک ته د دغه

بانک په اړه ناسم راپور ورکړی او ویلي یې وه، چې د کابل بانک کار په سمه توګه روان دی، ولسمشر کرزی وایي، له دغې ادارې څخه افغان دولت خپرنې پیل کړې:
"دغه امریکایي اداره (پرایس واټرس کوپر) د افغانستان دولت تر څېړنې لاندې ده، کله چې د فساد پر ضده د مبارزې خپلواک ریاست او زموږ څارنوالۍ او اقتصادي ارګانونه دې پریکړې ته ورسیږي، چې دې ادارې په قصدي توګه او یا د کوم بل دلیل له مخې د افغانستان دولت ته غلط راپور ورکړی، د افغانستان د دولت تر عدلي تعقیب لاندې به راشي او محاکمه به شي."
ښاغلي کرزي زیاته کړه، هغه دوې ادارې چې امریکا او اروپا ورته د افغانستان د بانکي سیستم د منظمولو لپاره سلګونه میلیونه ډالره ورکړي، نه یوازې چې دا کار یې ونه کړ، بلکې دولتي ادارو ته یې نوري ستونزې هم پېښې کړې.
ده وویل، چې دغه دولتونه او ادارې باید افغانستان ته خواب ورکړي، کابل بانک دولتي او غیري دولتي کارکوونکو ته د معاشونو ورکولو ترڅنګ د افغانستان په اقتصاد کې یو مهم بانک بلل کېدی، افغان چارواکي وایي د دې بانک ناسمې ادارې دغه بانک د له منځه وړلو له خطر سره مخ کړی.
راپورونه وایي، چې په دغه بانک کې لویې ونډې د شیرخان، محمود کرزي او د ولسمشر د یوه مرستیال د ورور وې.

فرانسې په رسمي ډول ...

هغه کسان چې د دې بندیز پلویان دي وایي، دا د امنیت او د ښځو او سرېو ترمنځ د برابرۍ لپاره ضروري دی او همدارنګه د فرانسې سیکولر سیستم پر ځای ساتي.
خو د دې بندیز مخالفین بیا وایي، چې دا ډول بندیز د خلکو د نظر او مذهبي ازادیو له حق څخه سرغړاوی دی او په غیرې عادلانه توګه یې هدف مسلمانان دي.
فرانسه په ختیځه اروپا کې هغه هیواد دی چې تر ټولو زیات مسلمانان په کې میشت دي او شمېر یې نږدې شپږ میلیونو ته رسیږي.

طی هفته گذشته در افغانستان ...

طی همین مدت ۱۵۹ نفر به گمان همدستی با شورشیان بازداشت گردیده اند.
زمری گفت، مجموعاً در کشور ۸۵ حادثه مربوط به استعمال سلاح و انفجارات ثبت شده اند. او افزود که تعداد تلفات در بین مردم ملکی به مقایسه هفته گذشته به اندازه ۱۰٪ کاهش یافته است.
کمیسیون حکومتی در باره نتائج تحقیقات در باره قتل ۵ عضو یک خانواده از طرف نیروهای ناتو در ولایت سرپل به رئیس جمهور حامد کرزی گزارش داده شد. کمیسیون نیروهای خارجی را مقصر قتل مردم ملکی شناخته است.
رئیس جمهور جمهوری اسلامی افغانستان ضمن اظهار تاثر و ابراز همدردی به بازماندگان این حادثه، کشته شدن افراد ملکی را در این عملیات شدیداً محکوم کرد و یکبار دیگر تاکید نمود که کشتار افراد ملکی نه تنها هیچ کمکی در مبارزه با تروریزم نمی کند، بلکه سبب تضعیف ان، نیز میگردد.
کرزی ضمن تبصره بر نتائج تحقیقات اعلام داشت که اگر کشتار مردم ملکی از طرف نیروهای خارجی ادامه یابد، پس در افغانستان در هیچ عرصه هیچگونه نتائج مثبت دستیاب نخواهند شد.
کرزی، در عین حال، اعمال اپوزیسیون را که مردم ملکی را به قتل می رسانند غیر اسلامی و غیرانسانی خواند.

د (CIA) او (ISI) ترمنځ ...

د سي ای ای یوه ویاند پرونی کته ګډوره وبلله، وېې ویل چې د CIA او ISI ترمنځ د همکاری بنسټ پوخ دی.
د پاکستان د استخباراتي ادارې مشر جنرال احمدشجاع پاشا په داسې حال کې امریکا ته سفر کوي، چې د واشنګټن او اسلام اباد ترمنځ ګډ استخباراتي عملیات د یولړ اختلافاتو، په تېره د CIA د یوه قراردادي ریموندډیوس د قضیې پرسر له خنډ سره مخامخ شوي دي.
دډیوس په تېره جنوری میاشت کې د پاکستان د پنجاب ایالت په مرکز لاهور کې دوه تنه پاکستانیان په ډزو وژلي وو.

افغان جګړه د پاکستان ...

پولیسو پر مرکز ځانمرګی برید شوی او دا د افغان جګړې اغېز دی، چې سیمه په تېره بیا پاکستان اغېزمنوي.
ښاغلي زرداري په سپینه ماڼۍ کې د هغه راپور په اړه، چې تېره اوونۍ خپور شو او پر پاکستان نیوکه شوې وه، چې د ترهګرۍ خپلو لپاره ځانګړې تګلار نه لري وویل: "پاکستان تل د واشنګټن نظریو ته غوږ نیولی، خو د امریکا د ولسي جرګې خینې غړي، چې پاکستان ته راغلي او د متحده ایالتونو رسنی، په دې نه پوهیږي، چې دوی د څه په اړه خبره کولی."
د زرداري په وینا، امریکا له تېرو ۶۰ کلونو راهیسې د پاکستان ملګرې ده، دوی یې سیاسي جوړښت مني او مناسب یې بولي، خو کله چې، نوي پارلمان جوړیږي، نوي کسان ورته راځي او د خلکو استازي کوي ،دا وخت نیسي، چې په نړیوال حالت پوه شي.
ښاغلي زرداري دا هم وویل، چې له واشنګټن نه د راتلونکې میاشتې په لیدنه کې به له ولسمشر اوباما وغواړي، چې پاکستان ته د بې پیلوټه الوتکو ټکنالوجي ور کړي. د نوموړي په خبره، که داسې وشي، نو له هغه وروسته به د پاکستان پوځ د ترهګرو ځالې پخپله په نښه کوي.
اصف زرداري هیله وښودله، چې امریکایې چارواکي به یې دا هیله ومني، ځکه د امریکا په لاس د بې پیلوټه الوتکو بریدونه سبب شوي، چې په دغه هیواد کې د واشنګټن ضد احساسات ډېر شي.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
اونیزه شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۸۰۹۸۳۰۸
• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.
دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com